# د احمد شاه بابا د شعرونو بیلګی

## غزل

ستا د عشق له مینو ډک شول ځیګرونه
ستا په لاره کې بایلي ځلمي سرونه
تاته راشمه زړګی زما فارغ شي
بې له تا مې اندیښنې د زړه مارونه
که هر څه مې د دنیا ملکونه ډیر شي
زما به هیر نه شي دا ستا ښکلي باغونه
د ډیلي تخت هیرومه چې را یاد کړم
زما د ښکلي پښتونخوا د غرو سرونه
د رقیب د ژوند متاع به تار په تار کړم
چې په تورو پښتانه کا ګزارونه
د فرید او د حمید دور به بیا شي
چې زه وکاندم پر هر لوري تاختونه
که تمامه دنیا یو خوا ته بل خوا یې
زما خوښ دي ستا خالي تش ډګرونه
احمد شاه به دغه ستا قدر هیر نه کا
که ونیسي د تمام جهان ملکونه

## غزل

نن بیا هسې د ګلزار په ننداره ځم

چې له یاره سره خوښ هم کناره ځم

چې بر کړی مې خدای لاس په رقیبانو

ترو به زه د هند پر لور په تماشه ځم

چې د هند د ملکو فتحه مې روزي شوه

نور ایران لره په توغ په نغاره ځم

پر دا کړی داد د خدای نه شی پښیمانه

تر نګین مې ایران لاندې شاهانه ځم

معشوقې د ایران ډیرې ترکې شوخې

خدای چې راکي ترکې هند ته دوباره ځم

زه تسخیر د ولایت د خدای په داد کړم

په مدد د حبیب هره خوا تازه ځم

چې زما د ولایت فتحه روزي شوه

تروه به څه د یار له نازه کناره ځم

احمد شاه دنیا فانی ګڼم چې نشته

دنیا پاته له ایمانه به سره ځم

## غزل

قافله د عشق راغلی له کوم خوا ده
پر زړګي باندې مې شته که څه غوغا ده

ټوله یو دي که غلجي که اودالي دي
ښه هغه چې يې د زړه شیشه صفا ده

چې عمل يې د نیکی دي میړه هغه
که اغوستې يې ګدله د خامتا ده

پښتانه دې ټوله لاس سره یو کاندي
چې مو نن غزا هر لوري شا و خوا ده

بی زحمته راحت چیرې مونده نه شي
د احمد څکه په هر لوري غزا ده

## غزل

زه هر ګوره نن د لوړو په حصار ځم
مثل نه لرم هیچیرې چې په شمار ځم

که مې خپله بلندي موجوده نه وي
لکه باد هسې د غرونو په کنار ځم

له وحدته چې په امر را بیرون شوم
د کثرت په ملکو هره خوا په ښکار ځم

دا د مینې ملک مې خپل کړ سر تر پایه
زه عاشق بندي د زلفو په هر تار ځم

د ناسوت په وهم ورک شوې عندلیبه
زه هغه ګل یم چې د مینې په بهار ځم

خپله مینه مې ښکارۍ تعلیم مې ورکړ
زه غرڅه په کږنګونو د کهسار ځم

ملکوت ګوره خاصان د سومعې کړم
همیشه د میخوارانو په بازار ځم

که آشنای مې چیرې ناز راباندې وکړي
دا مې نشته چې یمین ام که یسار ځم

HOWD هود

که هر څو دا ستا د مینې ورى دروند دى
ولى تل د خسته زړونو په کتار ځم

احمد شاه ته د زړه بورجل ته ګوره
بى ما څوک دى چې دا هسې په ګفتار ځم

## غزل

ارغنداو د غرو لمنې
د غاټول په ګلو سرې شوې
د دامان هوسى دي مستې
زرغونې ورته درى شوې
د باغو ونې ويښيږي
د بلبلو پرې نارې شوې
آسمان مځکه ټوله خاندي
نوې نوې ننداړې شوې
واه، دا څه نوې ژوندون دى
دا نسيم راغې له کومه
چې يې نوى روح وطن ته
وباسه له خپل قدمه
به وا جوړ ملى اختر دى
نجونو سره کړه خپل لاسونه
په ملالو غاړو زانکي
د روپو سپين امیلونه
لور په لور يې خپاره کړي
پرتندي تور اوربلونه

له کيږديو راوتلي

هوډ
HOWD

پر دښتو کړي اتڼونه

زلمیان هم ټوپک په غاړه
پښتنې ترانې وایي

په ملي جوش او خروش بیا
ننګیالي پلرونه ستایي

## غزل

تخت و تاج دی مبارک شه
د پښتون ټبر زلمیه

دا ملت دی پر تا لوړ شي
پر غلیم شوی بریالیه

ستر واکمن شوې د دی خاورې
رب دی ستر لره زمریه

د ولس په غم شریک شه
ملت ویښ کړه ننګیالیه

یو ګړی غفلت و نه کړې
واک ستا سوله دی پسه

په دردو یې ځان خبر کړه
لاس دی مینځه له هوسه

HOWD هود

نور د هیخ شي کمي نشته
خو تنها چې تربیه شي

په ملی روح یې ژوندون وي
له تقلیده بیګانه شي

یو د بل په غم شریک وي
له نفاق څخه ګوښه شي

خپل ځان وپیژني هسې
چې پر ځان باندې تکیه شي

اوس نو ستا و لاس ته ګوري
ملا دی وتړه احمده

د خپل قام په خدمت پاخه
مرسته غواړه له احده

## غزل

بست به شي آباد له سره
بیا به جوړې کنډوالی شي

هرې خواته به روانی
د سرو اوښو قافلی شي

په خپو به هلمند راشي
هر طرف ډکې شیلې شي

HOWD هـــوډ

چې هلمند به په ښپو کې
دوی ته کړی زاړه نکلونه

په ورو ورو به یې څرګند کړي
خپل د زړه پټ ارمانونه

شکر شکر خدایه تاته
چې دی مشر راپیداکه

اوس د دی زلمي مل شي
خپله مرسته ور عطا که

چې دا تیت ولس راټول کړي
له بیلتونه یې جلا که

په یو آواز راپاڅي
یو له بله سره ملا کا

له فراه نه تر هریه
له زرنجه تر زابله

ټول ملت په یوه زړه شي
له تخاره تر کابله

## غزل

که ظاهر یم تر تا مشر
یا له تا مې ډیر ولس دی

که جګړی مې بر لاس لاندې
یا ملت زما په وس دی

HOWD هوډ

خو ډېر زور مې دی په لاس کې
دا قدرت رالره بس دی

مشر توب نه غواړم ځکه
کشرتوب ته مې هوس دی

نه چې پیښ رانه ورانی شي
څه غبرګون به کړم په حثر

یې منلی مې په سترګو
زه یم کشر ته یې مشر

## غزل

د لوی خدای دا اراده وه
چې زه مشر کړمه ستاسو

له همدغه مرسته غواړم
غوښت مې دی په دواړو لاسو

چې پښتون بیا را ژوندي کړم
لکه و چې هسې بیا سو

ټوله یو لاس یو ولس سو
بیګانه له ملکه باسو

یو د بل په ژبه پوه شو

هود
HOWD

چې موږ څه يو څه به شونه

د ژوندون لارې دي کومې
موږ به کومې خواته ځونه

که موږ يو له بله پوه شو
نور کاروانه ټول آسان دی

ضروری تر هر څه موږ ته
پيژندل لومړی د ځان دی

ځان به ويښ کړو هری خواته
هری خواته غليمان دي

يو پر بل مو سره وژني
وايي دوستان يو دښمنان دي

زموږ زلميان وينو کې رغړي
دوی چکچکی کړی خندا کړي

منتظر دي هغه وخت ته
چې به کله موږ تباه کړي

زه يم ستاسی تاسي زما ياست
په وحدت خدای خوشحاليږي

آ ولس چې لاس يې يو وي
ژر مقصد وته رسيږي

هم په علم هم په توره
له هيچانه نه پاييږي

HOWD هود

که کرهنه ودانی ده
یو د بل په مرسته کیږي

که پوهنه که عظمت دی
که میړانه شان، شوکت دی

ودانی یا که عزت دی
ثمر هر یو د وحدت دی

## غزل

خدای دی وکي چې دوا شي
ما هم دی غوښت دی دپاره

چې خدمت د قام وطن کړي
ځان کړي خوار په دغه لاره

د نیکونو نوم ژوندې کړي
قام وژغوري له ناتاره

د پښتون جنډی کړي پورته
له خیبره تر خیساره

زه به هله دی زوی بولم
چې پاشلی ولس غونډ کړي

د زمري زلمو پوځونه
و هر لوری ته ورپنډ کړي

HOWD
هود

ستاسی هم پالنه وکړي
ومو ژغوري له خواريه

و پوهنی ته مو مخ شي
شي مخ ښ‌ته له ناپوهيه

هم هر پلار به خبر وی بل
د خپل لور له بيوزليه

چې د لور غوښې ونه خوري
شي بيزار له خونخواريه

هر ميړه پوه کړي په دی
چې ميرمن هم لري حقونه

که ميرمن په کور کې نه وي
څه به خوند وي له ژوندونه

هـود HOWD

www.howd.org